لمونځ! او هغه څه چې ستاسو په واک کې دي (يعنې غلامان او وينځې)

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: کله چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وفات وخت رانږدې شو نو عمومي وصيت يې دا وه: « لمونځ! او هغه څه چې ستاسو په واک کې دي (يعنې غلامان او وينځې)، لمونځ! او هغه څه چې ستاسو په واک کې دي» تر دې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دا خبرې په سينه کې کولې (يعنې وروستۍ ساه يې له همدې خبرو سره وتله)، او په ژبه يې سمې نه شوې کولای.

[صحيح دی] [النسائي په الكبرى کې او ابن ماجه روايت کړی دی]

د رسول الله صلى الله عليه وسلم تر ټولو زيات وصيت د امت په اړه دا و، حال دا چې د مرګ په سختۍ کې و: پر لمانځه پابند اوسئ، هغه وساتئ، ترې مه بې پروا کېږئ، همداراز د خپلو مملوکانو (غلامانو او وينځو) حقونه ادا کړئ، او له هغوی سره ښه چلند وکړئ، رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وصيت بيا بيا تکراروه، تر دې چې دا خبرې يې په مړۍ کې کولې او په ژبه يې نه شوې تکرارولی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66359

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee